سیلانی ۲۰۲۰/۱۲/۰۷

# د «د ادبیاتو په دنیا» کې

## د غضنفر او منلي ډیالوګ ته کتنه

د «ادبیاتو دنیا» په نوم اثر چې د ښاغلی غضنفر او منلي له خوا لیکل شوی دی، په۱۹۹ مخ کې د قافیې تر سرلیک لاندې یوه لیکنه لري. په دې لیکنه کې د قافیې په اړه معلومات وړاندې شوي دي، یاد معلومات د ډیالوګ په بڼه د منلي او غضنفر تر منځ تبادله شوي، چې ځینو برخو ته مو پاملرنه را ګرځوم:

لومړی: منلي وایې: « قافیه د شعر د دورونو په آخر کې د غږونو ورته والي ته وایي. د قافیې مفهوم په بېلابېلو ژبو کې بېل دی ځکه چې دا د ژبې له فونولوژۍ سره تړاو لري. بل ځای کې وایې: په سره ورته ژبو کې عموماً د قافیې مفاهیم هم سره ورته وي. لکه د پښتو، دري او اردو کې د قافیې برخې سره یوشان دي. بیا وایي زموږ شعر پېژندنه معمولاً د عربي عروضو او عربي بلاغت په اساس جوړه شوې، ټول اصطلاحات له عربي نه اخستل شوي دي او هغه مفاهیم چې په دې کې مطرح کېږي اکثره یې زموږ له ژبو سره سمون نه خوري، ځکه چې هغه په عربي باندې تطبیقیږي. په عربي کې کلمي اوږدې دي»

د منلي پهٔځواب کې باید ووایم:

لومړی :دا چې قافیه پهٔ هره ژبه کې ځانته بېل مفهومونه لري او ځانته ځانګړې پېژندنې ورته وړاندې کیږي. همدارنګه تاسو ادعا کوئ چې دري، پښتو او اردو سره ورته ژبې دي او د قافیې مفاهیم پهٔ کې یو شان دي، نو منلی صاحب ستا پورته لیکل شوی تعریف د یادو ژبو لهٔ شعري جوړښت سره پهٔ ټکر کې دی او ډېرررر پخوانی تعریف دی. ځکه موږ پهٔ دري، اردو او حتا پهٔ پښتو ژبه کې دروني، داخلي یا منځنی قافیې لرو، چې د قافیې کلمې یا غږونه د دورونو لهٔ پای برعکس د مسرو پهٔ پیل او منځ کې راځي. زهٔ به یې تاسو ته یوه بېلګه وړاندې کړم.

پوشیده چون جان می روی اندر میان جان من
سرو خرامان منی، ای رونق بستان من
هفت آسمان را بردرم و زهفت دریا بگذرم
چون دلبرانه بنگری در جان سرگردان من
تا آمدی اندر برم شد کفر و ایمان چاکرم
ای دیدن تو دین من وی روی او ایمان من
بی پا و سرکردی مرا، بر خواب و خور کردی مرا
در پیش یعقوب اندرآ، ای یوسف کنعان من

( موسیقی شعر فارسی، کاشفی، حبیب اللهٔ . مولوی، ج،2،1386:439)

پورته بیتونو ته کهٔ پاملرنه وشي، نو « جان می روی، خرامان منی. بردرم، بگذرم. برم، چاکرم. سرکردی مرا، خور کردی » د داخلي قافیې کلمې یا غږونه دي. اوس کهٔ ستاسو دلیل دا وي چې دا ډول قافیې خو پهٔ دري ژبې کې دي، نو هلته مو یادونه کړې چې پهٔ ورته ژبو کې د قافیې مفاهیم یو شان دي، نو اوس څنګه دا مفاهیم فرق کوي؟

زه شخصاً پهٔ پښتو شاعرۍ کې د قافیې پېژندنې بحث لکه څنګه چې زموږ پهٔ پوهنتونو کې تدریسیږي پردی او بې ګټې بولم. ځکه دا نهٔ زموږ د ژبې مال دی او نهٔ هم زموږ د ژبې شعري اوزان د عربي قافیې پهٔ قواعدو ویل کیږي همدارنګه نهٔ هم هغه قواعد زموږ پر اشعارو تطبیقېدونکې دي. دا چې موږ غزل، څلوریزه ... پهٔعربي قالب کې لیکو، دا داسې معنا ورکوي لکه چې موږ د چا پټې اجاره کړی وي او ځانته هم ترې حاصل تر لاسه کو او ښتن ته هم. موږ د نورو پهٔ پټیو کې خپله بزګري کړې... دا چې تاسو وایاست چې ورته ژبو کې د قافیې مفاهیم یو شان وي،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

نو د پښتو ژبې هغه اشعار چې د عربو په شعري قالبونو کې ويل شوي دي، هرو مرو داخلي قافيه په کې شته، خو کېداشي زموږ قافيه پېژندونکي او شاعران لاتر اوسه ورته متوجه شوي نهٔ وي.
د قافيې کلمې يا آوازونه او رديف يوازې د بيتونو او مسرو پهٔ پاى کې نهٔ راځي، بلکې د مسرې پهٔپيل، منځ او پاى کې راتللى شي، د ژبنيز جوړښت لهٔ مخې هغه ژبې چې پښتو ژبې ته ورته دي، دا ډول ډېر اشعار پهٔ کې شته چې قافيوي غږونه يې د مسرو منځ کې راځي، زهٔ پهٔ دې باوري يم چې دا کار زموږ پهٔ اشعارو کې هم شته، خو دا چې موږ خپل شعر په پردي قواعد تلو او شاعر ته مو سرې کرښې د قافيوي عيب پهٔ نوم ايستلي، نو شاعر مجبوراً، د نورو د نيوکو لهٔ وېرې دا کار نهٔ دى کړى يا يې نهٔ کوي، خو پهٔ دري او اردو ژبو کې دا کار ترسره شوى دى.
دويم: پهٔ ارود او دري ژبه کې د قافيې ډېر نور ډولونه شته، چې د هغو پهٔ پېژندنې سره ستاسو دا پورتنى تعريف ناقص او نيمګړى راپېژني. لکه : غږيزه يا صوتي قافيه: چې دې ډول قافيه کې د کلمې غږيز يا صوتي جوړښت باندې بحث کيږي، نهٔ د کلمو پهٔ جوړښت. شاعرانو دا ډول قافيې د مسرو پهٔ هره برخه کې کارولي دي... انځوريزه قافيه : پهٔ دې ډول قافيو کې ددې ترڅنګ چې د قافيې کلمې ځانته غږيز توازن لري، ترڅنګ يې يو ډول هنري انځور هم وړاندې کوي... دې ته ورته نورې ډېرې قافيې شته، چې زهٔ يې دلته يوازې نومه اخلم لکه: معنوي قافيه، تلقيني قافيه، لفظي قافيه ... يادې قافيې پهٔ پښتو ژبه کې هرومرو شته خو لا تر اوسه زموږ د ليکوالو پام نهٔ دى ورته اوښتى يا کېداى شي څېړل شوي نهٔ وي.( کزازى او کاشفى. موسيقى شعر فارسى)
درېيم: بل ځاى مو يادونه کړې، چې رديف د قافيې يوه برخه ده او د شعر د ښکلا او خوږلنې لهٔ پاره راوړل کيږي،ځکه چې د بيتونو پهٔ پاى کې لهٔ قافيې وروسته راځي او دا شى ختيځو ادبياتو کې نشته... پهٔ دې خبره کې چې رديف دشعر پهٔ ښکلا کې خپل ځانګړى تاثير لري درسره موافق يم، مګر دا چې رديف د قافيې برخه ده، د منلو نهٔ ده، ځکه کهٔ چېرې رديف د شعر د ښکلا او موسيقي آرايۍ لهٔ پاره راوړل کيږي، ډېر داسې اشعار شته، چې قافيه او نور کلمات چې ښکلا او خوند برابره ولى شي لري، مګر رديف ته هېڅ اړتيا نأ وي. موږ داسې ډېرې بېلګې لرو چې رديف نهٔ لري همدارنګه رديف يوازې او تل لهٔ قافيې وروسته او د بيتونو پهٔ پاى کې نهٔ راځي، بلکې د مسرو پهٔ منځ حتا وروسته او مخې هم راتللى شي. تاسو کولى شئ ډېرې بېلګې يې د فارسي ژبې پهٔاشعارو کې وګورئ. بله دا چې کهٔ چېرې رديف د قافيې برخه وګڼو، نو ستاسو پر هغې ادعا هم د بطلان کرښه را اوباسي چې واياست: د پښتو شعر قافيه پهٔ يوهٔ غږ جوړيږي، لکه ( آ ) د جفا وفا ... پهٔ کلمو کې، ځکه بيا قافيه پهٔ يوهٔ اواز کې نهٔ جوړيږي او د عربي ژبې په شان ټول توري پرې تطبيقيږي. د قافيې او رديف د يوهٔ بللو پهٔ هکله بايد دا هم ووايم، کهٔ موږ قافيه او رديف يو وګڼو نو شعر کې د تکرار لهٔ پاره لاره هواروي، چې د کلماتو زياد تکرار د شعر ښکلا، خوند او تغزل لهٔ منځه وړي.
څلورم: منلى وايي د قافيې بحث د يوې ژبې فونولوژۍ پورې اړوند بحث دى. دا خبره تر ډېره راته معقوله او علمي ښکاري او دا فورمول پهٔ پښتو ژبه کې ډېر ښهٔ تامېداى. ځکه پښتو ژبه کې قافيه د آوازونو پهٔ اساس جوړيږي، نهٔ د عربي ۷ يا ۹ تورو پر بنست....
پنځم: منلى وايي: پهٔ عربي ژبه کې ځکه د قافيې د شننې او تطبيق لهٔ پاره ۷ توري ټاکل شوي دي، چې د عربي ژبې کلمې اوږدې دي. زهٔ فکر کوم دا ډېره علمي او منطقي خبره نهٔ بريښي چې ووايو د عربي ژبې کلمې اوږدې دي. کهٔ داسې ووايو چې د عربي ژبې ژبنيز جوړښت يا فونولوژيکي او فونوټيکي جوړښت زموږ لهٔ ژبې سره توپير لري او د هغه لهٔ مخې پهٔ عربي ژبه کې يوه کلمه ډېر سيلابونه لري...
شپږم: منلى وايي: پهٔ پوهنتونونو کې د قافيې پهٔ نوم تدريسېدونکي اثار زده کړيالانو ته ګټور نهٔ دي او موږ زده کړيالانو ته د پښتو شعر د پېژندنې پهٔ برخه کې ناسم پوهاوى ورکو... زه لهٔ ښاغلي منلي سره سل پهٔ سلو کې موافق يم. د افغانستان پهٔ پوهنتونو کې چې د «قافيې فن» پهٔ نوم کوم کتابونه تدريسيږي، بې ګټې او د پښتو شعر پهٔ پېژندنه کې تر ډېرره ګټور نشي تامېدلى، ځکه کوم توري، عيبونه او اوزان چې پهٔ يادو کتابونو کې پر پښتو شعر تطبيقوي هغه ټول عربي دي او زموږ پهٔ ژبه کې نهٔ تطبيقېدونکي دي. لکه : روي، ردف.... يا هم د هجو عيب ... نو درانهٔ استادان دې د ادبياتو محصلين نه پهٔ بې ځايه مسايلو مصروفه وي او نهٔ هم ناسمې تيورياني دې ورته ښايي. د پښتو شعر قافيوي جوړښت دغږونو پر مټ تيوري او نظر تر ټولو غوره دى. نور دا توري او عيبونه زموږ پهٔ ژبه کې اضافي شيان دي.
زه په پاى کې د بلاغي علومو له ښوونکو يو پوښتنه کوم
د قافيې د ۹ يا ۷ تورو ارزښت او ګټه څهٔ ده؟ ولې موږ ولولو؟
درنښت!سيلانى


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ